د سلام نړیوال علمي ژورنال
Salam International Academic Journal
*Journal Homepage:* https://journal.salam.edu.af
لسم کال، شمیره ۱۷، پسرلی، کال ۱۴۰۴هـ ش

# د ناقانونه مهاجرتونو په مخنیوي کې د رسنیز عامه پوهاوي ونډه

# The Role of Media-Based Public Awareness in Preventing Irregular Migration

**پوهندوی احمد سعید[1]، پوهنمل افسر صدیق شینواری[2]**

**DOI: 10.64104/v10.Issue17.n44.2025**

ISSN: 3078-9583 (Online) ISSN: 3078-9575 (Print)
تاریخ نشر: ۱۴۰۴/۰۵/۰۸ تعداد صفحات: ۱۰ از صفحه ۷۸۱ تا ۷۹۱

## لنډیز

د دې څېړنې هدف د ناقانونه مهاجرتونو د مخنیوي په برخه کې د رسنیز عامه پوهاوي رغنده ونډه معلومول دي. دا یوه کېفي څېړنه ده چې د ننګرهار پوهنتون د ژورنالېزم پوهنځي د اوو تنو لوړرتبه استادانو سره له فوکس ګروپ مېتود څخه په ګټې اخیستنې ترسره شوې ده. په دې څېړنه کې د راټولو شویو معلوماتو تحلیل د موضوعي تحلیل (Thematic Analysis) پر بنسټ ولاړ دي. موندنې ښیي سره له دې د ټولیزو رسنیو د اعتبار کچه لوړه ده خو د ټولنیزو رسنیو د اعتبار کچه بیا بدلیدونکې ده چې تر ډېره د ناقانونه مهاجرتونو شائقین له همدې ټولنیزو رسنیو څخه په ګټې اخیستنې دې چارې ته زړه ښه کوي او هغه خلک هم له ټولنیزو رسنیو کار اخلي چې غواړي په قاچاقي لارو ځوانان بهر ته ولېږي او له دې لارې عائد تر لاسه کړي.په ورته وخت کې بیا د ناقانونه مهاجرتونو د مخنیوي لپاره بیا هم ټولنیزې رسنۍ موثرې یادې شوې دي. خبري ژانر، سمعي/بصري سپاټونه د رسنیزې محتوی د انتقال غوره چوکاټونه حساب شوي دي. په همدې ډول، رسنۍ نه یوازې د معلوماتو د انتقال وسیله ده بلکې د عامه ذهنیت جوړونې، د باورونو رامنځته کولو او تصمیم نیونې په برخه کې اړینه ونډه لري. که رسنۍ په هدفمنه توګه او مسؤلانه ډول وکارول شي، کولای شي د ناقانونه مهاجرتونو د مخنیوي په برخه کې یوه مؤثره وسیله وګرځي. دا څېړنه د لا زیاتو څېړنو په موخه د رسنیو لپاره د مستندې او غوره محتوی تولید تجویزوي.

**کلیدي کلیمې: لیدیز پیغامونه، ټولنیزې رسنۍ، اوریدیز پیغامونه،مهاجرت، رسنیز کمپاین، رسنیز عامه پوهاوی، ناقانونه مهاجرت**

[1]. راډیو تلویزیون دیپارټمنت ، ژورنالېزم او ارتباطات پوهنځی، ننګرهار پوهنتون، ahmad.sshinwari@gmail.com
[2]. راډیو تلویزیون دیپارټمنت ، ژورنالېزم او ارتباطات پوهنځی، ننګرهارپوهنتون، afsarsadiqshinwari@gmail.com

استفاده از مقالات مجله با ذکر نام و مصدر مجاز می باشد
The use of the journal's articles is permitted provided that the author's name and the source are properly cited.

## سریزه

د نړیوالو ټولنو د راپورونو له مخې، په افغانستان کې د ناقانونه مهاجرتونو کچه له تېرو څو کلونو راهیسې لوړه شوې چې په تدریجي ډول په دې اندازه کې د پام وړ ډېروالی راغلی او دا موضوع په نړیواله کچه د اندېښنې وړ ده. د ملګرو ملتونو د کډوالو چارو د اداري (UNHCR) راپورونه ښیي چې د 2023 میلادي کال تر پایه په نړیواله کچه له افغانستانه د وتلو افغانانو شمېر ۶،۴ مېلیونو وګړو ته رسېده چې وروسته په تولیز ډول په کور دننه او بهر د بې ځایه شویو او کډوالو په شمېر کې لوړوالی راغی چې دغه شمېره تر دا مهاله ۱۰،۹ مېلیونو ته رسېدلې ده (UNHCR, 2024). د مهاجرت نړیوال سازمان د شمېرو له مخې د دغو مهاجرتونو او بې ځایه کېدلو ستر لامل په لوړه کچه بې روزګاري او ورسره نور اقتصادي، سیاسي او امنیتي تهدیدونه په ګوته شوي دي. د ناقانونه مهاجرتونو د مخنیوي په برخه کې ، د ټولیزو اړیکو د وسائلو پراخه ونډه د علمي څېړنو له خوا تایید شوې ده (Triandafyllidou, 2017). د متخصصینو څرګندونې ښیي چې په افغانستان کې د رسنیز عامه پوهاوي کمپاینونه کولای شي د هېواد په کچه د ناقانونه مهاجرتونو ګراف راښکته کړي او له دې لارې تر ډېره ممکنه ده چې افغان ځوانان په خپل هېواد کې د کار او فعالیت تصمیم ونیسي (سعیدي، ۲۰۲۵) . کارپوهان په دې باور دي چې رسنۍ کولی شي د خلکو په چلند او تصمیم نیونه کې کلیدي رول ولوبوي، په ځانګړې توګه کله چې رسنیز پیغامونه د هغوی له کلتوري او ټولنیز چاپېریال سره سمون ولري، نو همدا لامل دی چې رسنیز پیغامونه د ځوانانو پر تصمیم نیونه هم اغېز لري (احمدي، ۲۰۲۵). په ځانګړي ډول هغه وخت چې دوی غواړی خپله سیمه پرېږدي او د کډوالۍ ژوند اختیار کړي (Maigah, 2024) . دغه څېړنه به وکولای شي د ناقانونه مهاجرتونو د رسنیز انعکاس پر اولویت ټینګار وکړي څو ثابته شي چې باید د ځانګړو شرائطو په پام کې نیولو سره دغې موضوع ته په رسنیو کې لومړیتوب ورکړل شي او د ناقانونه مهاجرتونو مخه ونیول شي. د ناقانونه مهاجرتونو د مخنیوي په اړه د رسنیز عامه پوهاوي ارزښت په دې وروستیو کې ډېر شوی دی. په ځانګړې توګه، زمونږ په هیواد کې چې خلک یې د بېلابېلو ستونزو له امله مهاجرت ته اړ ایستل کېږي، رسنۍ کولای شي د عامه پوهاوي په لوړولو کې مهم رول ولوبوي او د ناقانونه مهاجرتونو د خطرونو او عواقبو په اړه د خلکو پوهاوی ډېر کړي. په دې توګه، رسنۍ نه یوازې د اطلاعاتو د انتقال وسیله بلکې د ټولنې د بدلون یوه بنسټیزه برخه هم شمېرل کېږي چې په حقیقت کې د خلکو د ژوند کیفیت لوړوي او هغوی ته د قوانینو په اړه پوهه ورکوي. د دې څېړنې پایلې کولی شي د رسنیزو چارو سمبالوونکو مدیرانو او د اړونده امارتي ادارو لپاره هم ګټورې تمامې شي او له دوی سره د پالېسیو په جوړولو کې مرسته وکړي.

**په افغانستان کې د ناقانونه مهاجرتونو وضعیت او رسنیز عامه پوهاوی:** افغانستان د نړۍ له هغو هېوادونو څخه شمېرل کېږي چې د خلکو د مهاجرتونو کچه پکې ډېره لوړه ده. د مهاجرت نړیوال سازمان (IOM) او (UNHCR) د وروستیو راپورونو پر بنسټ، هر کال بې شمېره افغانان د بېلابېلو ټولنیزو ستونزو له امله هڅه کوي چې له هېواده ووځي. د دوی شمېرې ښیي چې د افغانستان ټولنیز او اقتصادي وضعیت د خلکو د مهاجرت اصلي لامل ګرځېدلی دی چې سربېره پر دې یې یو شمېر نور عوامل د اقتصادي بې ثباتۍ او د کاري فرصتونو نشتوالی،همدارنګه د زدکړو محدود فرصتونه او د کورنۍ د ښې راتلونکې لپاره د هیلو له لاسه ورکول په ګوته شوي دي. د راپورونو له مخې، هر کال سلګونه افغان مهاجر د سفر پر مهال د سمندري غرقېدو، د انساني قاچاق ښکار کېدو، یا د سرحدي ځواکونو لهخوا د وژلو او شکنجې سره مخ کېږي (UNHCR, 2024).

**د ناقانونه مهاجرتونو ټولنیزې، اقتصادي او رواني پایلې:** ناقانونه مهاجرت نه یوازې د افرادو په کچه، بلکې د ټولنې په کچه هم ژورې منفي اغېزې لري. د مهاجرت ناسم مدیریت په افغانستان کې د بشري پانګې ضیاع ته زمینه برابره کړې ده، ځکه هغه ځوان ځواک چې کولای یې شو د هېواد په بیا رغونه کې کار وکړي، له هېواده په تېښته ځان بریالی ګڼي. سر بېره پر دې د مهاجرتونو په نتیجه کې پر کورنیو هم رواني، اقتصادي او ټولنیز فشارونه ډېرېږي چې دغه فشارونه د کورنیو د تجزیې او ماتېدو له خطر سره مخ کېږی. په همدې ډول ماشومان پر خپل وخت د زدکړو له فرصته محرومېږي او فرهنګي هویت ته یې زیان رسېږي (پژواک، ۲۰۱۶).

**د ناقانونه مهاجرتونو د مخنیوي په برخه کې د رسنیو ونډه :** رسنۍ یواځې د خبرونو د نشرولو مسؤلیت نه لري، بلکې د خلکو د فکرونو د رهبرۍ او د ټولنیزو ستونزو د حل لپاره د فکري فضا جوړول یې له مهمو دندو ځخه شمېرل کېږي (سعیدي س. ا.، ۱۴۰۴). د ناقانونه مهاجرت د مخنیوي په برخه کې رسنۍ درې اساسي کارونه تر سره کولای شي؛

**د معلوماتو رسونه:** رسنۍ کولای شي د ناقانونه مهاجرت د خطرونو، د انساني قاچاق خطرونو، د سفر د ستونزو، او د قانوني مهاجرت د اسانتیاوو په اړه دقیق او موثق معلومات وړاندې کړي.

**د ذهني بیدارۍ رامنځته کول:** که رسنۍ د هغو خلکو حقیقي کیسې نشر کړي چې د ناقانونه مهاجرت له امله یې ژوند ته خطر پیښ شوی، دا به په خلکو کې د مهاجرت د منفي پاپلو درک زیات کړي.

**د بدیلو لارو وړاندې کول:** پر دې سربېره، رسنۍ باید د هغو کورنیو، ځوانانو او ښځو مثبتې بېلګې خپرې کړي چې په خپل هېواد کې د زغم، کار، زده‌کړو یا سوداګرۍ له لارې بریالي شوي دي. دا ډول مثبتې کیسې کولی شي د امید فضا رامنځته کړي (ملال، ۲۰۲۵).

د رسنیو د اغېزناکو کمپاینونو د ځانګړتیاوې په برخه کې ویلای شو چې د تجربو پر بنسټ، هغه کمپاینونه بریالي وي چې هدفمند پیغامونه، احساسي عاطفي اغېز ، د باور وړ سرچینه او رسنیزه تنوع ولري. ناقانونه مهاجرت چې یوه پیچلې ټولنیزه پدیده ده ،د افغانستان د راتلونکي لپاره ستر ګواښ ګڼل کېږي. د دې ګواښ د مخنیوي لپاره باید رسنۍ د عامه پوهاوي، ذهني بیدارۍ او د خلکو د فکري تربیې لپاره جدي او د منظم پلان له مخې رول ولوبوي. علمي، هدفمند، عاطفي او دوامدار رسنیز کمپاینونه کولی شي د خلکو ذهنیت بدل کړي او هغوی ته د مهاجرت پر ځای لا ښې بدیلې لارې چارې ور وښیي.

**د مسئـــلې بیان:**

د مهاجرتونو او کډوالۍ په اړه ، په هېواد کې د تولیزو اړیکو د وسائلو کمرنګي او ناځرګنده دریځ د اندېښنې وړ دی، ولې چې په دې اړه دقیقې شمېرې او څېړنې نشته چې ایا د ناقانونه مهاجرتونو د مخنیوي په برخه کې په کافي اندازه رسنیز عامه پوهاوی رامنځته کېږي او که نه؟ خو تر ډېره ګومان کېږي چې دغه چاره به نیمګړې او ډېره کمزورې وي. که څه هم رسنیز وسایل د ناقانونه مهاجرت د مخنیوي په برخه کې مهم رول لوبولی شي، خو په افغانستان کې په دې برخه کې رسنیز نشرات لا هم د موثره رسنیزو ستراتېژیو د نشتوالي او د رسنیزو پیغامونو د ناسمې طراحۍ له امله له ستونزو سره مخ دي. همدارنګه د مخاطبینو نه پېژندنه او د رسنیزو قالبونو ناسم انتخاب هم د دې باعث کېږي چې د کډوالۍ او مهاجرتونو اړوند رسنیز عامه پوهاوی اغېزناک نه وي. له همدې امله پکار ده په دې برخه کې څېړنې تر سره شي څو د تولیزو اړیکو وسائلو د سمې کارونې سره اغېزناک رسنیز عامه پوهاوی رامنځته او د ناقانونه مهاجرتونو او کډوالۍ مخه ونیول شي.

**د څېړنـــې ارزښت:**

په دې څېړنه کې هڅه شوې څو په افغانستان کې د رسنیز عامه پوهاوي د موثریت لپاره عملي حل لارې وړاندې شي. دا څېړنه به روښانه کړي چې کوم رسنیز چینلونه (راډیو ، ټلویزیون، ټولنیزې رسنۍ، چاپي رسنۍ) د ناقانونه مهاجرت د مخنیوي لپاره تر ټولو غوره او ډېر اغېزناک دي. کوم ډول رسنیز قالبونه (خبرونه، مستند فلمونه، ډرامې، رېښتیني داستانونه ) کولی شي د افغانانو په منځ کې د ناقانونه مهاجرت په اړه پوهاوی زیات کړي؟ څنګه کولی شو د هېواد د بېلابېلو اقشارو لپاره د رسنیزو پیغامونو ځانګړې ستراتیژۍ جوړې کړو. د دغو موندنو په تر لاسه کولو سره به په هېواد کې د ناقانونه مهاجرتونو ستونزو ته حل لارې وموندل شي چې ورسره به د بشري قاچاق مخه ونیول شي او په هېواد کې به د پایدار اقتصادي پرمختګ په عملي کېدو کې مرسته وکړي.

**د څېړنـــې هدف:**

- ناقانونه مهاجرتونو ته د ځوانانو په هڅونه او مخنیوي کې د رسنیو اغېز معلومول
- د ناقانونه مهاجرت په مخنیوي کې د رسنیز عامه پوهاوي ونډه معلومول.

**د څېـړنې پوښتنه:**

- نا قانونه مهاجرتونو ته د ځوانانو په هڅونه او مخنیوي کې د رسنیو اغېز څه دی؟
- رسنیز عامه پوهاوی څنګه کولی شي د ناقانونه مهاجرتونو د مخنیوي په برخه کې رغنده رول ولوبوي؟

**تېـرو اثـارو ته کتنه:**

فاکچینی او میډا ( 2017 ) ، په خپله څېړنیزه مقاله کې ټینګار کوي چې د مهاجرتونو په اړه هره رسنۍ خپله جلا تګلاره پر مخ وړي. دوی وایی موږ داسې شواهد موندلي چې د رسنیو پاملرنه په پراخه کچه د ناقانونه مهاجرت په اړه د خلکو په نظرونو پورې تړاو لري او بیا هره رسنۍ په دې برخه کې خپله پالیسي تعقیبوي. هغه کسان چې فاکس نیوز ګوري، د سی بي ایس د لیدونکو په پرتله ۹ سلنه ډېر احتمال لري چې د بې اسنادو مهاجرینو د قانوني کولو مخالفت وکړي. په داسې حال کې هغه کسان چې PBS ګوري، د مهاجرینو د قانوني کولو ډېر ملاتړ کوي. دا موضوعات د یوې رسنۍ د پالیسۍ پورې اړه لري(Mayda, 2017)

د مهاجرت په اړه د رسنیزو فعالیتونو د اهمیت په اړه د مهاجرت نړیوال سازمان( IOM,2019) د ژورنالستانو او رسنیو لپاره ځانګړی لارښود چاپ کړی دی. په دې لارښود کې د ژورنالستانو د هغو مهارتونو اړوند لارښوونې شوي چې هغوی یې د کډوالۍ د راپورورکونې په برخه کې کاروي او د دوی چارې ګړندۍ کوي. لارښود همدارنګه د مهاجرت په اړه د عامه باورونو په اړه ځینې اړینې غلط فهمۍ لرې کول غواړي، او د مهاجرت د نړیوال قانوني چوکاټ په اړه لومړني معلومات وړاندې کوي. لارښود په بشپړه توګه هغه ټول اړخونه په بر کې نیسي چې یو ژورنالیست باید ورته پام وکړي (Savio, 2019).

په دې څېړنه کې د فوکس ګروپ څېړنیز مېتود د موادو د راټولولو لپاره کارول شوی دی چې بیا موضوعاتي تحلیل پر بنسټ ډېټا تحلیل شوې ده. مورګان Morgan (2011)، په کیفی تحقیقاتو کې د دې څېړنیز مېتود د کارونې او ښېګڼو په اړه بحث کړی او د مرکو پر بنسټ ولاړو څېړنو کې یې دغه روش ته ځانګړی ارزښت ورکړی دی. ځکه په فوکس ګروپ مېتود کې معلومات په ډله ایېزه توګه داسې راټولېږي چې په نورو مېتودونو کې یې تر لاسه کول اسانه نه دي (Morgan, 2011). سربېره پر دې د Richard A. Krueger او Mary Anneڅلورم ځل چاپ شوی کتاب چې د Focus Groups: A Practical Guide for Applied Research تر عنوان لاندې لیکل شوی د څېړنو په برخه کې د فوکس ګروپ مېتود ستایي او په دې برخه کې عملي لارښوونې وړاندې کوي (Anne, 2008). Jen Katz بیا په خپل مشهور کتاب How to interview and Conduct Focus Groups کې د مرکو او فوکس ګروپ مېتود کارونې په اړه لارښوونې کړې دي. د ده په وینا دغه مېتود په حقیقت کې د څېړونکي استنتاجي منطق یا Inductive Logic ته وده ورکوي(Katz, 2022) .

پرانویرا سکانا (Pranvera Skana) په خپله څېړنه کې چې د How Social Media Affects Illegal Immigration in Albania تر عنوان لاندې یې تر سره کړې دې پر دې موضوع راڅرخېدلې چې څنګه ټولنیزې رسنۍ په ځانګړې ډول ټېک ټاک ، انسټګرام او فېس بک د لویو ښلوونکو او اغېزناکو وسیلو په حېث د جرمي سازمانونو لپاره د ځوانانو د جذب په برخه کې په لویه سوداګرۍ بدل شوي دي. په دې څېړنه کې د ټېک ټاک خپرونو ته پام شوی چې په البانیا کې د کډوالو او مهاجرو د جلب او جذب لپاره ترې کار اخیستل کېږي. څېړونکی وایي چې د دغه سیمې په شرائطو کې ټولنیزې رسنۍ د کډوالۍ او مهاجرتونو لپار مناسب شرائط جوړوي. د یادې څېړنې مېتود کیفي دی چې د رسنیو له متخصصینو او ځوانانو سره پکې د اړونده موضوع په اړه مرکې شوې دي(Skana, 2024) .

عنایه هدایتي (2018)، په خپله څېړنه کې د اندونېزیا Groningen پوهنتون محصلینو په یوه کېس سټډي کې د مهاجرتونو په تصمیم نیونه کې د ټولنیزو رسنیو ونډې ته کتنه کړې ده. د څېړنې مېتود یې In-depth Interview ټاکلی چې پکې یې د مهاجرتونو په تصمیم نیونه کې د ځوانانو لپاره د ټولنیزو رسنیو کارونه ګټوره بللې چې ګویا له محصلینو سره د هدف په انتخاب او منزل ته په رسېدو کې مرسته کوي او همدارنګه له دوی سره هدف ته په رسېدو کې مرسته کوي(Hidayati, 2018) .

### د څېړنې مېـــتودولوژي:

دا یوه کېفي Qualitative Research ده چې موخه یې د ناقانونه مهاجرتونو په مخنیوي کې د رسنیز پوهاوي ونډه معلومول دي. د څېړنې ډېټا د Focus Group له لارې د ننګرهار پوهنتون ژورنالېزم پوهنځي د ۷ تنو متخصصو استادانو څخه راټوله شوې چې د راټولو شویو نظرونو تحلیل یې د موضوعي تحلیل( Thematical Analysis ) په پام کې نیولو سره تر سره شوی او د ترسره شویو مرکو ډېټا یې په څو پړاوونو کې په دې ډول ترتیب شوې او د MS-Excelسافټویر په ذریعه یې محاسبه شوې ده؛

جدول1 : د موضوعي تحلیل پروسه




د څېړنې لومړۍ پوښتنې ( نا قانونه مهاجرتونو ته د ځوانانو په هڅونه او مخنیوي کې رسنۍ څه ونډه لري؟) ته په ځواب کې رسنۍ په دوه کټګوریو وېشل شوې دي ( تولیزې رسنۍ/ Mass Media او ټولنیزې رسنۍ یا Social Media) چې د هرې کټګورۍ تحلیل یې جلا موندنه لري.

د موندنو په موخه د څېړنې د دویمې پوښتنې ( رسنیز عامه پوهاوی څنګه کولای شي د ناقانونه مهاجرتونو په مخنیوي کې موثره ونډه ولري؟) لپاره څلور اساسي موضوعات (Themes) ټاکل شوي چې هره موضوع بیا فرعي موضوعاتو (Sub-Themes) ته ځانګړې شوې ده چې تفصیل یې په لاندې ډول دی.

- **د رسنیز کمپاین ډولونه**: ( تلوېزیوني ، راډیویي ، ټولنیزې رسنۍ ، مطبوعات ) د متخصصینو د ناقانونه مهاجرتونو د مخنیوي په برخه کې د کومې رسنۍ عامه پوهاوي ډېر اغېزناک دی.
- **رســنیز ژانرونه** :( اطلاعاتي، تحلیلي، تبلیغاتي ژانر، هنري) کوم رسنیز ژانر د افغانستان په اوسنیو شرائطو کې د ناقانونه مهاجرتونو په مخنیوي کې ډېر اغېزناک دی.
- **د پیغام رسونې چوکاټونه** : (اعلانات ، سمعي او بصري سپاټونه، فلم ، رېښتینې داستان) د د متخصصینو له نظره رسنیز عامه پوهاوي لپاره د پیغام رسونې کوم چوکاټ ډېر اغېزناک دی.
- **په نښه شوي مخاطبین**: (ځوانان، بې ځایه شوي وګړي،ټیټ اقتصاد درلودونکي،دربواړه کټګورۍ) د متخصصینو د مشاهدې له مخې د ناقانونه مهاجرتونو د مخنیوي لپاره باید د ټولنې کوم قشر د رسنیز کمپاین لپاره زیات مد نظر (هدف) وګرځول شي.

### مونـدنې او تــحلیل:

**۱ جدول: نا قانونه مهاجرتونو ته د ځوانانو په هڅونه او مخنیوي کې رسنۍ څه ونډه لري؟**

| رسنۍ ډول | ناقانونه مهاجرت ته هڅونه | د ناقانونه مهاجرت مخنیوی |
|---|---|---|
| ټولیزې رسنۍ (Mass Media) | پــه دې ډول رســنیو کــې د ناقانونــه مهــاجرتونو پــه اړه پوهــاوی شــته خــو بــرعکس بیــا ناقانونــه مهــاجرتونو تــه د هڅونې هیڅ څرک پکې نه لیدل کېږي. | • د عامه پوهاوي کمپاینونه (لکه د شمشاد تلویزیون "رباط" خپرونه)<br>• د قانوني مهاجرت د لارو چارو په اړه معلومات<br>• د نا قانونه مهاجرت منفي |

| | | |
|---|---|---|
| | | پایلي په ګوته کول<br>• د قاچاقبرانو له خوا د ځوانانو استثمار |
| ټولنیزې رسنۍ (Social Media) | • د قاچاقبرو له خوا په خپله ګټه د فېسبوک، ټېلېګرام، وټساپ کارول<br>• ځوانانو ته فریب ورکول<br>• د بهرنیو هېوادونو د ښکلا او د مستریح ژوند انځورونه شریکېدل | • تر ډېره ګټور معلومات له رسمي سرچینو خپرېږي نه د سوشل مېډیا له لارې. |

**د ناقانونه مهاجرتونو په مخنیوي کې دواړو رسنیو پرتلنه**

| د رسنۍ ډول | د لاسرسي کچه | د باور ورتیا | د اغېز تمرکز |
|---|---|---|---|
| ټولیزې رسنۍ Mass Media | منځنۍ | لوړه | د عامه پوهاوي لوړول |
| ټولنیزې رسنۍ Social Media | لوړه | متغیره | د خلکو غوښتني |

د څېړنې د لومړۍ پوښتنې موندنه ښیي چې نا قانونه مهاجرتونو ته د ځوانانو په هڅونه او مخنیوي کې رسنۍ په دوه کټګوریو وېشل شوي دي؛لومړی ټولیزې رسنۍ چې په دې ډول رسنیو کې  ناقانونه مهاجرتونو ته د هڅونې موضوع په نشت حساب ده او د دې ډول مهاجرتونو په مخنیوي کې یې ونډه ډېره ده. د بېلګې په توګه د عامه پوهاوي کمپاینونه ، د قانوني مهاجرتونو د لارو چارو په اړه معلومات ، د ناقانونه مهاجرتونو د منفي پایلو نشرول او د همدارنګه د قاچاقبرانو له دسیسو د خلکو خبرول پکې شامل دي. خو برعکس دا چې ټولنیزو رسنیو ته د هر چا لاسرسی اسان او بې له قیده او شرطه دی ، نو ځکه پکې هغه کسان ډېر منفي تبلیغات تر سره کولای شي چې غواړي له دې لارې عائد تر لاسه کړي او یا په غیر مستقیم ډول ځوانان مهاجرتونو ته تشویق کړي. ټولنیزې رسنۍ او ټولیزې رسنۍ یو له بل سره د لاسرسي د کچې او د باور ورتیا فکتورونو له مخې معکوسه رابطه لري چې د اغېز تمرکز یې په ترتیب سره د عامه پوهاوي لوړول او د خلکو د غوښتنو په پام کې نیول دي.

۲جدول: رسنیز عامه پوهاوي څنګه کولای شي د ناقانونه مهاجرتونو په مخنیوي کې موثره ونډه ولري؟

| برخه | ځانګړنه | فیصدي (%) |
|---|---|---|
| رسنیز ژانرونه | خبري ژانر | 71.4 |
| | تحلیلي ژانر | 28.6 |
| د پیغام چوکاټ | سمعي/بصري سپاټونه | 57.1 |

| | | |
|---|---|---|
| | رېښتيني داستانونه | 42.9 |
| **مخاطبين** | ځوانان | 57.1 |
| | درې کټګورۍ (ځوانان، بې ځایه شوي وګړي،ټيټ اقتصاد درلودونکي) | 42.9 |

موندنې ښيي چې د رسنيزو ژانرونو د ټاکنې په اړه پنځو تنو (71.4٪) خبري ژانر د ناقانونه مهاجرتونو د مخنيوي لپاره تر نورو ژانرونو ډېر ګټور ياد کړ او دوه تنو (۲۸,٦٪) يې تحليلي ژانر موثر وباله. د پيغام جوړونې د چوکاټ په هکله د فوکس ګروپ د اوو تنو متخصصينو له جملې څخه څلور تنو(۵۷,۱٪) يې سمعي او بصري سپاټونه او درې تنو(۴۲,۹٪) يې رېښتينی داستان يا د Success Story کارونه تر نورو غوره وبلله. همدارنګه د ناقانونه مهاجرتونو د مخنيوي په برخه کې د عامه پوهاوي د رسنيزو کمپاېن لپاره څلور تنو (۵۷,۱٪) متخصصينو ووېل پکار ده ځوانان د مخاطبينو په توګه په پام کې ونيول شي ولې چې د مشاهدې له مخې نن سبا ځوانان تر ډېره د ناقانونه مهاجرتونو تصميم نيسي او درې تنو (۴۲,۹٪) يې درې واړه کټګورۍ ( ځوانان، بې ځايه شوي وګړي،بې وزله وګړي ) د عامه پوهاوي لپاره مناسب مخاطبين وبلل.

**د موندنو تحليل :**

د څېړنې د لومړۍ پوښتنې موندنې ښيي چې ټولنيزو رسنيو ته ډېر لاسرسی د دې باعث کېږي چې له دې لارې ځوانان د ناقانونه مهاجرتونو لارې ومومي. په داسې حال کې چې ټوليزې رسنۍ بيا د ناقانونه مهاجرتونو په مخنيوي کې مهم رول لري چې تر ډېره يې منفي پاېلو ته ښه انعکاس ورکولای شي. له فوکس ګروپ څخه د تر لاسه شويو معلوماتو پر بنسټ، څرګنده شوه چې د ناقانونه مهاجرتونو د مخنيوي لپاره رسنيز عامه پوهاوی خورا مهم رول لوبولی شي، خو د دې پوهاوي د تاثير زياتوالي لپاره د ځانګړو تاکتيکونو او ستراتيژيو کارول اړين دي.

**لومړی**، د رسنيزو کمپاېنونو د خپرېدو په وسائلو او چوکاټونو کې ټوليزو رسنيو د اعتبار کچه لوړه ده خو لاسرسی ورته متوسط دی چې برعکس بيا د ټولنيزو رسنيزو کمپاېنونو د اعتبار کچه ټيټه خو لاسرسی ورته زيات دی. دغه موندنه  څرګندوي چې د افغانستان د اوسني ټولنيز جوړښت په ځانګړې ډول د ځوان نسل تر منځ د ټولنيزو رسنيو پراخ استعمال، دا پليټفارم د پوهاوي لپاره په هغه صورت کې مناسب ګڼي چې معتبره رسنيز چېنلونه ترې خپرونې وکړي. دا چاره له يوې خوا د پيغام د چټک خپراوي زمينه برابروي او له بلې خوا د مستقيم تعامل فرصت هم رامنځته کوي، چې کولی شي د مخاطبينو په تفکر او چلند باندې ژور تاثير وکړي.

**دوهم**، د رسنيزو ژانرونو د اغېز په اړه خبري ژانر تر نورو ټولو ژانرونو اغېزناک وبلل شو، چې دا موضوع د دې ښکارندويي کوي چې د ناقانونه مهاجرتونو په تړاو د دقيقو، کره، او تازه معلوماتو خپرول د خلکو په تصميم نيولو کې مهم رول لري. خبري ژانر د مخاطب د اعتماد د ترلاسه کولو لپاره يوه مؤثره لاره ده ځکه چې خبر د واقعيت پر بنسټ وي او د شواهدو سره مل وي. چې په دويم قدم کې يې تحليلي ژانر اغېزناک ژانر بلل شوی دی. دا خبره څرګندوي چې څېړنيز او ژور راپورونه هم د موضوع د وضاحت لپاره اهميت لري.

**درېيم**، د پيغام د چوکاټ (Message Framing) په دې برخه کې سمعي/بصري سپاټونه اغېزناک ګڼل شوي دي. دا ښيي چې سمعي او بصري وسايل (لکه ويډيوګانې، انيميشنونه، او نور بصري کليپونه) د ليدونکو د جلبولو لپاره مؤثر تماميږي، ځکه چې سمعي او بصري عناصر د خلکو پر احساساتو مستقيم تاثير لري. بلخوا، د رېښتينو داستانونو Success Stories اهميت هم په ګوته شوی چې دا ډول داستانونه د الهام ورکولو او مثبتې بېلګې وړاندې کولو لپاره ګټور دي. د ريښتينو برياليو کيسو شريکول کولی شي د مخاطبينو باور لوړ کړي او هغوی ته بديلې لارې چارې وړاندې کړي.

**څلورم**، د مخاطبینو د ټاکنې په برخه کې ځوانان د عامه پوهاوي د کمپاین اصلي هدف ګڼل کېږي. دا ځکه چې ځوانان نسبت نورو کټګوریو ته د ناقانونه مهاجرت اصلي کاندیدان دي. د هغوی تصمیم نیونه د ژوند په حساسو مراحلو کې وي، چې رسنۍ کولی شي پکې رغنده رول ولوبوي. همدارنګه رسنیز کمپاینونه باید درې مهمې کټګورۍ (ځوانان، بې ځایه شوي وګړي، او بې وزله قشر) په پام کې ونیسي. د ناقانونه مهاجرت له پدیدې سره په ټولنه کې یواځې ځوانان قشر نه بلکې د ټولنې بېلابېل وګړي مخ دي او رسنیز پیغام باید داسې طراحي شي چې دغو ټولو قشرونو ته د پوهاوي وړ وي او لارښوونې ورته وکړي.

**منـــاقشه:**

د څېړنې پایلې ښیي چې رسنیز عامه پوهاوی کولای شي د ناقانونه مهاجرتونو په مخنیوي کې اغېزناکه ونډه ولري، خو دا اغېز د رسنۍ له ډول، د پیغام رسونې له چوکاټ، هدفمند مخاطب، او د ژانر له انتخاب سره مستقیم تړاو لري .د فاکچینی او میډا (2017) څېړنه دا څرګندوي چې رسنۍ یوازې د معلوماتو د انتقال وسیله نه ده، بلکې د عامه ذهنیت جوړولو، سیاسی دریځونو ته د خلکو هڅولو او آن په وروځنیو چارو کې د افرادو په تصمیم نیونه کې کلیدي ونډه لري. د دوی موندنې د دې له پایلو سره همغږې لري په تېره بیا په دې برخه کې چې ټولنیزې رسنۍ د اغېزناکو کمپاینونو او عامه پوهاوي لپاره تر ټولو ګټورې رسنۍ دي (Ahmadi, 2025). په افغانستان کې، چیرته چې دودیزو رسنیو (لکه تلوېزیون یا مطبوعات) ورځ تر بلې کمرنګه کېږي پرځای یې ټولنیزې رسنۍ د مهم بدیل په حېث ګڼل کېږي(Jabarkhil, 2025) . دې وضعیت ته په البانیا کې سکانا (2024) هم اشاره کړی، چیرې چې ټولنیزې رسنۍ د ناقانونه مهاجرت لپاره د جلب و جذب وسیلې ګرځېدلې دي. د دې تر څنګ، دغه څېړنه دا هم روښانه کوي چې ټولنیزې رسنۍ یوازې د تشویق وسیله نه ده، بلکې که سمه استفاده ترې وشي، د معلوماتو، خطرونو، او قانوني بدیلو حل‌لارو لپاره هم یوه مؤثره سرچینه ده. همدارنګه، د IOM لارښود چې د رسنیو او ژورنالستانو د روزنې لپاره چمتو شوی، د دې اړتیا ښکارندویي کوي چې رسنیز کار باید مسوولانه، د باورونو د سمون لپاره، او د قانوني چوکاټونو په رڼا کې ترسره شي. د دې څېړنې ګډونوال، په ځانګړي ډول هغه کسان چې د ریښتینې داستان او سمعي/بصري سپاټونو ملاتړ یې کړی په غیرمستقیم ډول دا پیغام تاییدوي په دې معنی چې احساسات راپاروونکي، مستند او حقایقو ته نږدې پیغامونه ډېر اغېز لري(Ahmadi A. G., 2025) . د دې څېړنې بل د بحث ټکی دا دی چې د ناقانونه مهاجرتونو د مخنیوي رسنیزو کمپاینونو مخاطب باید څوک وي؟ د څېړنې ګډونوالو ځوانان، بې ځایه شوي وګړی او ټیټ اقتصاد درلودونکي د مهمو مخاطبینو په توګه یاد کړي. دغه ټاکنې ښیي چې د پیغام رسونې لپاره باید څو اړخیز پلان جوړ شي، ځکه هر قشر خپل ځانګړی درک، اړتیا او له رسنیو د استفادې ځانګړی سبک لري. مثلاً، تعلیم‌یافته قشر ښایي د تحلیلي محتوا سره اړیکه ونیسي، خو بې سواده قشر ته باید د اورېدلو یا لیدلو له لارې پیغامونه ورسېږي – لکه د راډیویي ډرامو یا سمعي/بصري سپاټونو له لارې. د فوکس ګروپ مېتود چې په دې څېړنه کې ترې استفاده شوې، د کیفي تحقیقاتو له پاره یو مناسب انتخاب دی. لکه څنګه چې Morgan (2011) او Katz (2022) هم یادونه کړې، دا مېتود د ګډونوالو عمیق درک او تجربه رامخته کوي چې په دې څېړنه کې هم د خلکو د واقیعي درک انعکاس ښیي. په ټوله کې، دا څېړنه دا څرګندوي چې له رسنیو که په مسؤلانه او هدفمنده توګه کار واخیستل شي، کولای شي د ناقانونه مهاجرت د مخنیوي لپاره یوه اغېزناکه ستراتیژیکه وسیله شي. خو دا اغېز هغه وخت زیاتېږي چې رسنۍ د ټولنې له واقعي اړتیاوو، مخاطبینو، او فرهنګي حساسیتونو سره سم همغږې وي. که څه هم دغه ډول څېړنه د موثقو معلوماتو ، امارو او ارقامو غوښنه کوي خو دا چې نن سبا د کورنیو رسنیو او نورو اړونده منابعو ته لاسرسی کم دی او همدارنګه ذیربطه ارګانونه دقیق ارقام په اسانۍ نه شریکوي نو ځکه د دې څېړنې لپاره منابعو ته نه لاسرسی د محدویت په حېث پېژندل کېږی.

**پـــایله اخیستنه:**

د څېړنې پایلې په ډاګه کوي چې رسنیز عامه پوهاوی د ناقانونه مهاجرتونو د مخنیوي لپاره یوه بنسټیزه او اغېزناکه ستراتېژي ده. په ځانګړي ډول د افغانستان په اوسنیو ټولنیزو، سیاسي او اقتصادي شرایطو کې چې خلک له بېلابېلو ستونزو سره لاس و ګرېوان دي. څېړنه څرګندوي چې رسنۍ نه یوازې دا چې د معلوماتو د انتقال وسیله ده، بلکې د خلکو د ذهني جوړښت، باورونو، او

تصميم نيولو په پروسه کې ونډه لري. د فوکس گروپ له نظرونو څرگنده شوه چې ټوليزې رسنۍ د معتبره رسنيو په توگه او ټولنيزې رسنۍ د چټک لاسرسي وړ رسنۍ په ډول د ناقانونه مهاجرتونو په اړه د پيغام رسونې لپاره کارېدلی شي. د څېړنې هغه برخه چې د پيغام رسونې چوکاټونه ارزوي، ښيي چې سمعي/بصري محتوا خلک زيات اغېزمنوي، ځکه چې دا ډول پيغامونه د مخاطب له احساساتو سره نېغ په نېغه اړيکه لري چې ورسره مخاطبين تحريکېږي.

د مخاطب د انتخاب په برخه کې، د فوکس گروپ د ځرگندونو له مخې ځوانان، بې ځايه شوي وگړي،د ټيټ اقتصاد درلودونکي او د ټولنې نور قشرونه بايد د رسنيزو کمپاينونو د تمرکز نقطه وي. ځکه همدا ډلې د مهاجرت له خطر سره تر ټولو زيات مخ کېږي. د دغو مخاطبينو لپاره بايد د هغوی د علمي، اقتصادي، او ټولنيزو شرايطو مطابق مناسبه ژبه، چوکاټ او پيغام ترتيب شي.د رسنيز ژانر له اړخه، اطلاعاتي او تحليلي ژانرونه او رېښتيني داستانونه تر ټولو اغېزمن بلل شوي، ځکه چې خلک له حقيقي تجربو ډېر څه زده کولی شي او باور پرې کوي. موندنې ښيي که چېرې رسنۍ په سمه او مسؤلانه بڼه وکارول شي، نو دا نه يوازې د مهاجرت مخه نيولی شي، بلکې خلکو ته د قانوني لارو، بديلو حل‌لارو او د خطرونو د خبرتيا امکانات هم برابرولی شي.

**وړانـــديزونه:**

- د محدوديت پر ځای د رسنيو پراخه او هدفمنه کارونه: څېړونکي ( په ځانگړي ډول د اترا اداره او د اطلاعاتو او فرهنگ وزارت د نشراتو برخه) دې د وخت د اړتياوو له مخې د رسنيو ټولنيز موقف وڅېړي.
- د رسنيزو کمپاينونو محلي کول: د افغانستان د اطلاعاتو او فرهنگ وزارت تر څارنې لاندې د پيغامونو ژبه، بڼه، او محتوا بايد د افغانستان له فرهنگي او ژبني شرايطو سره همغږې وي.
- په رسنيو کې د مستندو موادو او خپرونو ډېرول: اطلاعاتو فرهنگ وزارت دې د رسنيزې محتوی پر غني کولو او د اعتماد وړ گرځو لو برخه وڅېړي.
- د ناقانونه مهاجرتونو د مخنيوي لپاره دې د هېواد په رسنيو کې د عامه پوهاوي ځانگړې خپرونې د څېړنو پر بنسټ جوړې شي.

**ماخـذونه**


1. احمدي, ا. گ. (۲۰۲۵/۳/۱۵). د وگړو پر تصميم نيونه د رسنيو اغېز. (احمد . سعيد, مرکه کونکی).
2. پژواک. (۳۰/اپرېل/۲۰۱٦). حصول از https://pajhwok.com/ps/2016/04/30: https://pajhwok.com/
3. سعيدي, سيد سميع الله (۱۴۰۴). د ژورنالستيکو آرونو په تطبيق کې د اسلامي سپارښتنو ونډه. *شريعت وړانگې*, ۵۴۵-۵۵۲.
4. سعيدي, سيد سميع الله (۲۰۲۵/۳/۱٦). د رسنيو د عامه پوهاوي کمپاين . (احمد . سعيد, مرکه کونکی)
5. ملال, حمد الله (۲۰۲۵/۳/۱۲). د رسنيو بنسټيز مسؤليتونه . (احمد . سعيد, مرکه کونکی)
6. Ahmadi, A. G. (2025, April 12). The Role of Media Public Awareness in Preventing Illegal Migration. (A. Saeed, Interviewer)
7. Ahmadi, J. S. (2025, March 16). The Role of Media Public Awareness in Preventing Illegal Migration. (A. Saeed, Interviewer)
8. Anne, R. A. (2008). Focus Groups: A Practical Guide for Applied Research. London: Sage Publication.
9. Hidayati, I. (2018). The Role of Social Media on Miration Decision-Making Processes: Case of Indonesion Student in University of Groningen. Jurnal Studi Pemuda, 515-526.

10. Jabarkhil, K. (2025, March 16). The Role of Media Public Awareness in Preventing Illegal Migration. (A. Saeed, Interviewer)

11. Katz, J. (2022). How to INterview and Conduct Focus Groups. Washington : American Psychological Association.

12. Maigah, A. (2024). Influence of Social Media on Social Behaviour of Youth in the Tamale Metropolis, Ghana. International Journal of Academic Research in Business and Social Sciences, 624-639.

13. Mayda, F. &. (2017). Illegal immigration and media exposure: evidence on individual attitudes. Journal of Development and Migration, 1-36.

14. Morgan, D. L. (2011). Focus Groups as Qualitative Research. London: Sage.

15. Saeedi, P. S. (2025, 03 16). Media Public Awarness Compain . (A. Saeed, Interviewer)

16. Savio, R. (2019). Journalist Guide to Media Coverage of Migration Based on International Law and Evidence. Tunis: International Organization for Migration .

17. Skana, P. (2024). How Social Media Affects Illegal Immigration in Albania. Interdisciplinary Journal of Research and Development , 209- 215.

18. Triandafyllidou, A. (2017). Media Coverage on Migration:Promoting a Balanced Reporting. Geneva: International Organization for Migration.

19. UNHCR. (2024, July 29). Global Foucus UNHCR Operation Worldwide. Retrieved from https://www.unrefugees.org/news/afghanistan-refugee-crisis-explained/